مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۰/۰۶/۰۷

# «ورک دې شي ایران...»

ورک دې شي ایران لـه غملړلو تـومنـو سره
ژوند مې په کې تیرکړ دم د یو جوړه جامو سره
(؟)

هـم مي ډوب کانـدې اوبــو کې
هـم مــي وسـېـځـي پـه اور کې

بـیا هـم وایـي چې يــو وروڼه
ورو ګـلـوي خو دې وي داسي؟

د وروری لافــي کـړې ډېــرې
ورو ګلوي خو دې وي دغسي؟

(آصف بهاند)

موږ چې کوچنیان و، ډېر ځلې به مو دا خبره له مشرانو اورېدله چې د دوعا په دود به یې ویل:

**خدای مو له اور او اوبو څخه وساته!**

خو اوس زموږ پر هیوادوالو داسي حال راغلی دی چې له تندې مري، خو په ابو کې وژل کېږي له سرو رېږدي، خو په اور کې کبابيږي او...

په دې ورځو کې د ظاهراً همژبي، همکلتوره، همدينه او هم... غربي ګاونډي د ظلمونو په اور کې زموږ یو شمیر هیوادوال لولپه کړای شول، هغه چې نیمسوي پاتي وو، د اسلامي أخوت؟ له مخې يي لاسوه د روغتون پر کټونو ورته ولچک کړل.

زموږ په هیواد افغانستان کې د رنګارنګ بادونو (سره، شنه، سپین، تور) په را الوتلو سره زموږ ځاله ډړې وړې شوه او زموږ هیواد وال له خپلي ځالي نه لرې او نږدې ملکونو ته نه د هوس له پاره، بلکي د ډېر مجبوریت په خاطر مهاجر شول. په ګاونډيو هيوادونو کې څکه د افغان مهاجرو شمير ډېر دی چې د لرې تګ له پاره به يې لاس تش او پښي ګوډې وې او نږدې ګاوند هیوادونو کې یې د شرافتمندانه ژوند تېرولو په پار هر ډول فزيکي کار ته اوږه ورکړه، څو خپل عادي « وخوره، مه مره» ژوند تېر کړي.

ایران او پاکستان هر کله دا بار د افغانانو پر اوږو وراچوي چې مهاجرو ته يي پناه ورکړې ده؛ خو په مقابل کې هيڅکله دا نه يادوي چې دوی د دې مهاجرو له وجود نه څومره ګټې اخيستي دي.

دې مهاجرو د دوی د وطن په آبادی کې څومره خولې تويي کړې دي، دا هم نه يادوي چې دا مهاجر جبراً هلته استوګن شوي دي، نه د هوس په خاطر، په دې هم خبر نه دي چې دا مهاجر له هغې تولني، د هغوی له پولیسو او حکامو نه بنه زړه لرې که بد.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

د دې غميزې داستان څومره چې غواړې اوږدېدای شي، خو لږ که په لنډه يادونه وکړو داسې به وي چې په دې دواړو هېوادونو کې يې نه په وچه کې ارام ته پرېږدي او نه... يو ځل يې په ابو ننباسي ، بيا لمبې پرې بلوي او که يې لاس بر شي بيا د همدې ډوبو کړای شوو او کباب کړای شوو بدنونه او مړي هم پر افغانانو خرڅوي او...

د افغانانو د دې غميزې داستان نه تمامېدونکې خواشينۍ ته ورته دی. د دغو سختيو او بد بختيو يو جګ غږ او جګې چيغې ته پام وکړئ. د شعر دې نمونې ته وګورئ چې يو افغان مهاجر د يوې مړۍ ډوډۍ د پيدا کولو په خاطر څه ورځې تيروي او څه ستونزې ګالې. دا شعر او پر شعر باندې يوه لنډه تبصره ما په خپله يوه سفرنامه (لاروکي لارويان) کې ثبت او خپره کړې وه، دلته يې د ايرانيانو د دوو ورستيو ظلمونو (په ابو کې ډوبول او په اور سره سېځل) په پار يو ځل بيا له نوې کتنې سره خپروم.

شاعر د خپل درديدلي ژوند او درديدلي زړه غوټې پرانيزي. د شعر شاعر ما ته نه دی ما لوم، هر څوک چې وي، د ايران د ناروااوو، مزدوريو او غمونو ښه انځور يې کړی دی، او خوږ غږي سندرغاړي فيروز کندوزي په خپل خواږه غږ کې ډير ښه زمزمه کړی دی.

دا شعرښاغلي کندوزي په دوه ډوله زمزمه کړی دی. لومړی په آزاده فضا کې له يوې دمبورې او يوه ضرب (زير بغلي) سره، دويم يې له رباب او تبلې سره په کومه ستديو کې. شعر کيدای شي ډير اوږود وي.

په لومړنۍ ثبت شوې برخه کې شعر يو بند اوږد دی، خو زه يې په دا وروستي بند سم پوه نه شوم، ځکه مې له دويمې سندرې نه دا شعر ثبت کړی دی:

## ورک دې شي ايران

**ورک دې شي ايران له غم لړلو تومنو سره　　ژوند مې په کې تيرکړ دم د يو جوړه جامو سره**

**ورک دې شي ايـران، په ايـران کې مې زړه تـنـګ دی**
**هر شرکت ته لاړ شم، په نصيب کې مې کـلـنـګ دی**
**پوه په ګناه نه يـم، د مهندس را سـره جـنـګ دی**
**ميـاشت مې پـوره نه وي، بيا روان شم بسترو سـره**

**ورک دې شي ايران له غم لړلو تومنو سره　　ژوند مې په کې تيرکړدم د يوجوړه جاموسره**

**ورک دې شي ايـران، کار يې ټول پـه غم لـړلی دی**
**هر ځوان ته چې ګورې، په ژونديني د ګـور مړی دي**
**حال پوښتنه ی مـه کړه، د مـزله ګردو وهلی دی**
**څوک لارو کې مړه شول، څوک سودا کوي ګوروسره**

**ورک دې شي ايران له غم لړلو تومنو سره　　ژوند مې په کې تيرکړ دم د يوجوړه جاموسره**



**لړې اوبه راکړئ، وسوځېدم!**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ